# د کور قوانین

**د هغو کسانو لپاره چې د پناه غوښتونې د امتیازاتو قانون او همداراز د کور نیونې د مکلفیت له مخې د Fürstenfeldbruck ولسوالۍ دفتر د غیر مرکزي استوګنځي قوانین په لاندې ډول دي**

1. مالک، مدیر او د Fürstenfeldbruck ولسوالۍ مسئول دولتی مامورین د تسلط حق لري.
2. د Fürstenfeldbruck ولسوالی د غیر متمرکز استوګنځي اوسیدونکي هغه کسان دی چې دلته د اپر باوریه (Upper Bavaria) د ساحوی حکومت لخوا یا د Fürstenfeldbruck ولسوالی دفتر لخوا په استوګنه مکلف شوي دی.
3. اوسیدونکي باید د شپې له 10 تر سهار 7 بجو او د ورځې له 1 تر 3 بجو امنیت او آرامی تامین کړي. هر هغه کار چې د شور لامل کیږي، لکه په جګ غږ موزیک غږول په دغو وختونو کې په کلکه منع دی او همداراز د یکشنبې او رخصتیو په ورځو کې هم.
4. د Fürstenfeldbruck ولسوالۍ دفتر له اجازې پرته هیڅ ډول محل یا پارټۍ (زوکړې ورځ لمانځل ، واده او داسې نورو) ته اجازه نشته. د اجازې لپاره درخواست باید لږ تر لږه دوه اوونۍ وړاندې د ایمیل asylbewerberunterbringung@LRA-FFB.de له لارې واستول شي: چې د مسئول کس نوم، موده، د محفل نوم او د ګډون کوونکو تعداد هم باید ذکر شوي وي. شاید له مخکې یا آډوانس کې د نغدو پیسو ضمانت وغوښتل شي.
5. د الکهولو په استعمال، ساتلو او د مخدره توکو هر ډول سوداګرۍ ممنوع ده.
6. په ټول تعمیر کې سیګرټ څکول ممنوع دی. سیګرټ څکول یواځې له تعمیر څخه د باندې په ځانګړو سیمو کې جواز لری، هر ډول پاتې شونې او بیکاره شیان باید په ځانګړو کثافت دانیو کې واچول شي. سکاره لګول (په خاص ډول د اوبو پیپونو او شیشۍ) لپاره د تعمیر په هیڅ برخه کې جواز نلري.
7. پخلنځی، د نلونو اسانتیاوې، عمومي خونې او استوګنځي باید تل پاک وساتل شي او کارولو وروسته سم لاسي باید پاک شي. په خونو کې ډوډۍ پخول او ګرمول او نشه یي مشروبات کارول په کلکه منع دی. هغه لاربښونې چې (د پاکولو پلان، نور) چې د Fürstenfeldbruck ولسوالۍ دفتر لخوا ویشل شوي باید تعقیب کړای شي.
8. بې اجازې د برقی سامانونو نصبول او په کرایه ورکول یا په خونه کې اضافي بخارۍ لګول منع دي. د ولسوالی له دفتر څخه اجازه اخیستل اړین دي. که د دغه ممانعت خلاف برقي وسایل نصب یا وچلولو شي نو د Fürstenfeldbruck ولسوالۍ دفتر لخوا ضبط کیږي. په دې اړه ضمیمه شوي معلومات هم ولولئ (لاندې مراجعه وکړئ).

9. له اوسیدونکو غوښتنه کیږي چې د خپل فرنیچر له راوړلو دمخه د ولسوالی له دفتر څخه اجازه واخلي. هر ډول فرنیچر چې د Fürstenfeldbruck ولسوالی دفتر له اجازې پرته راوړل شي شاید ضبط کړای شي. په دې اړه ضمیمه شوي معلومات هم ولولئ (لاندې مراجعه وکړئ).
10. تجهیزات او وسایل د Fürstenfeldbruck ولسوالی دفتر ملکیت دي او باید اوسیدونکي یې په ډېر احتیاط سره بیرته تسلیم کړي او یا یې په خپلو ځایونو کې پریږدي. د هر ډول تخریب په اړه باید Fürstenfeldbruck ولسوالی دفتر ته خبر ورکړل شي. په تعمیر کې تجهیزات مه لګوئ او په دیوالونو باندې هیڅ شئ مه میخ کوئ. د بیغورۍ یا نه پاملرنې له کبله فرنیچر یا تعمیر خرابول او یا په قصدي توګه د تجهیزاتو د آلاتو خرابول مسئولیت لري او تاوان اخیستل کیږي او شاید جرم هم وګڼل شي.
11. د ژغورنې او تیښتې لارې او همداراز آسانتیاوو ته لاسرسی باید تل له خنډونو څخه پاک وی. د اور یا لوګي دروازې بندول یا ورڅخه ټوپ اچول منع دي. له دغه کار څخه سرغړونه جرم ګڼل کیږي او قانوني چلند به ورسره کیږي.
12. والدین د خپلو ماشومانو ساتلو مسئولیت لري او د هغوی ساتنه یې دنده ده.
13. اوسیدونکي نشي کولی چې خپل انټرنیټ، تیلفون او یا داسې نور شیان نصب کړي. د Helferkreis کولی شي د ولسوالی دفتر له مشورې وروسته د WiFi کنکشن وصل کړي.
14. فضوله توکي او کثافت باید په سمه توګه په ځانګړو کثافت دانیو کې واچول شي. فضوله مواد او کثافت باید د فاضله اوبو د نل لیکو له لارې (تشناب ، دستشوې او نور) کې ونغورځول شي. په تعمیر او سیمه کې د کثافاتو او چټلیو غورځول منع دی او له مسئول کس څخه به غوښتل کیږي چې تر ځایه یې ورسوي.
15. میلمانه او دریم ګړي چې خپل رسمي شناختي کارت وړاندې کولی شي او هغه څوک چې غواړي له یو اوسیدونکي سره وګوري کولی شي په استوګنځي کې د سهار له 8 تر شپې 11 بجو پاتې شي. هغه اوسیدونکي چې میلمه ورسره لیدنه کوی د هر ډول غیر قانوني کړنو لپاره مسئول دي. په استوګنځي کې امنیت باید د ملاقات کوونکو له کبله ګډوډ نشي.
16. میلمانه یا ملاقات کوونکي د شپې نشي پاتې کیدلی. له دې کار څخه سرغړونه سزا او جریمه لري.
17. که چیرې اوسیدونکي له اوو ورځو د زیاتې غیر حاضرۍ پلان لري نو باید مسئول سوپروایزر ته خبر ورکړي.
18. د پلور استازي، سوداګر، پیرودونکي، د مذهبي ټولنو نماینده ګان، ټولنې یا نورو سازمانونو ته اجازه نشته چې استوګنځي ته داخل شي او هلته ټرون لاسلیک کړي، په ټولنو کې ګډون وکړي، د خپلو اهدافو لپاره غړي جذب کړي او یا داسې نور، دا قانون د پیسو په بدل کې خدماتو وړاندې کولو ته هم شامله ده (په خاص ډول فحش کارونه) یا اعلانات. د سرغړونه په صورت کې ورسره قانوني چلند کیږي.
19. د Fürstenfeldbruck ولسوالی دفتر له اجازې وروسته د رسنیو نماینده ګان کولی شي استوګنځي ته یواځې د راپور ورکونې په موخه داخل شي. په عموم کې، د Fürstenfeldbruck ولسوالی دفتر له امر څخه وروسته په تعمیر او استوګنځي کې دننه د تصویر اخستلو اجازه شته.
20. د Fürstenfeldbruck ولسوالی دفتر کارکوونکي او نماینده ګان او پولیس حق لری چې شخصي او د خونو پلټنه وکړي او، که اړینه وی، نو د کور بندیز هم لګولی شي.

## د کور قانون د **8** او **9** مادې په اړه اضافي معلومات

# د Fürstenfeldbruck ولسوالۍ دفتر د استوګنځي د تجهيزاتو لاربنود

د اوسيدونکو لخوا هر ډول فرنيچر، همداراز برقي وسايل د **Fürstenfeldbruck** ولسوالۍ دفتر اجازه ليک ته اړتيا لري. دا ليست يو لاربنود دي او بشپړ ليست ندي. په اصل کې، په تجمعي استوګنځيو او کوچنيو کورونو کې يو فرق شته (تعريف: اپارتمانونه او حويلۍ). په ټولو حالاتو کې، د تيښتې لاري بايد د خنډونو څخه پاکې وي او بايد و نه تړل شي.

## تجهيزات

| جنس | تعداد | |
|---|---|---|
| | **تجمعي استوګنځې** | **کوچنې او نور ملکيتونه** |
| **ماشومانو تخت** | د ماشوم/کوچنې په سر يو | |
| **شخصي توشکې** | د ورکړل شويو توشکو په بدل کې يا اضافه | |
| **قالينې** | په اصل که نه، اثتثناً د کورنۍ د برابروالی لپاره، د خوب يا خوړو ځای لپاره يا د مذهبې عباداتو لپاره، مګر يواځې په تناسبې لحاظ. | په اصل کې هو، مګر په تناسبې لحاظ. |
| **پردي** | په اصل کې نه، مګر اورضد/د سوخت ضد ( DIN 4102 or DIN EN 13501-1 چې د سوزيدو امکان يي ډير کم وي.) | په اصل کې هو، مګر په تناسبې لحاظ. |
| **فرنيچر چې د شيشې او/يا اوسپنې جوړ وی او لګ لرګی هم ولري** | په اصل کې هو، مګر په تناسبې لحاظ. | |
| **کوچ/سوفه** | نه، په عمومې خونو کې امکان شته خو صرف د مسئول سوپروايزر د اجازې وروسته. | په اصل کې هو، مګر په تناسبې لحاظ. |

## برقي وسايل

په اصل کې، د ورځنيو کوچنيو وسايلو او نورو آلاتو بايد فرق وکړای شي. دا ليست هم يواځې د لاربنود لپاره دي او بشپړ ليست ندي.

| **د ورځنې استعمال کوچنې وسايل** | **نور وسايل، په عموم کې له 1000 watts څخه پورته** |
|---|---|
| لکه موبايل، چارجر، ګروپونه، راډيو، سی ډی پليير، لپ ټاپ | لکه برق چای جوش، د ويښتو وچوونکی، تلويزون، يخچالونه، فريزرونه |
| په اصل کې استعماليدلی شي – تناسب په نظر کې نيول کيږي. | په اصل کې استعماليدلی شي صرف د متخصص برقي د چيک کولو وروسته – بغير له نويو شيانو څخه چې بيل يا اينوايس ولري. په ياد وساتئ چې دا شيان بايد په مناسبو خونو کې استعمال کړای شي (لکه برقي چای جوش په آشپز خانه کې). تناسب په نظر کې نيول کيږي. |

**په استوګنځي که لاندي وسايل ساتل منع دي: برقي پکې، ريډيټرونه، سکاره نغری، د ستووف ټاپونه، او داسی نور. له دي علاوه، لاسی جوړ شوي وسايل بايد چالان نه کړای شي (لکه کنکشن کيبل چې په اصلي حالت کې نه وی).**